# روغتیايي مالومات
# د محرمیت حقیقت پاڼه

پښتو / Pashto

**STARTTS د محرمیت قانون سره سم ستاسو د شخصي روغتیا د مالوماتو اداره کولو ته ژمن دی.**

## ستاسو د مالوماتو راټولول

- هرچیرې چې امکان ولري مونږ به په مستقیم ډول ستاسوڅخه مالومات راټولوو.
- که دا ممکنه نه وي، یا په بیړني حالت کې، مونږ ممکن د کورنۍ د غړي، ملګری، پالونکی یا بل چا څخه د مالوماتو راټولولو ته اړتیا ولرو څوک چې موږ سره د مناسبي پاملرنې په چمتو کولو کې مرسته کولی شي.

## د راټول شویو مالوماتو امنیت

- STARTTS ستاسو مالومات په الکترونیکي روغتیايي ریکارډ کې ساتي چې د خوندي کمپیوټر شوي ډاټابیس برخه ده.
- که تاسو د 2016 څخه د مخه په STARTTS کې ګډون کړی وي، موږ ممکن مالومات د کاغذ پر بنسټ په روغتیايي ریکارډ کې هم ولرو.
- موږ په ټولو فارمټونو کې د شخصي مالوماتو د خوندي ذخیره کولو په اړه سخت قواعد او ټکلاري تعقیب کوو تر څو ستاسو مالومات د غیر قانوني لاسرسي، ضایع کیدلو یا نورو ناوړه ګټه اخیستنې څخه خوندي کړو.

## د مالوماتو کارول یا افشا کول

- STARTTS به ستاسو مالومات د لاندې دلیلونو په وجه وکاروي یا افشا کړي:
  - د راتلونکي اپوینټمنټونو لپاره ستاسو سره اړیکه نیول
  - نورو روغتیايي مسلکیانو سره کوم چې ستاسو روغتیا په برخه کې راسا ښکیل دي
  - د هغو خدمتونو په اړه د فیډبیک لپاره له تاسو سره اړیکه نیول چې تاسو زموږ څخه ترلاسه کړي چې زموږ سره د خدمتونو د ارزونې او په ښه کولو کې مرسته وکړي
  - زده کوونکو او نورو کارکوونکو ته د روزنیزو موخو لپاره
  - نورو روغتیايي خدمتونو او مجاز درېیمي ډلې ته چې د یو چا ژوند، روغتیا، یا هوساینې ته د جدي او احتمالي ګواښ په مخنیوي کې مرسته وکړي، لکه په بیړني حالت کې
  - د ادعا مدیرانو او اړوندو کسانو ته د شکایت، قانوني اقدام، یا د STARTTS یا زموږ د روغتیايي مسلکیانو په وړاندې د راوړل شوي ادعا د اداره کولو لپاره
  - د STARTTS د کار او زموږ د پیرودونکو درملنې پورې اړوند اهدافو لپاره، په ګډون د مالی مرسته، پلان جوړونه، خوندیتوب او د کیفیت د ښه کولو فعالیتونه
- که تاسو نه غواړئ چې موږ ستاسو په اړه ځینې مالومات راټول کړو، وکاروو یا افشا کړو، تاسو به اړتیا ولرئ چې موږ ته ووایاست، او موږ به د هرې پایلې په اړه چې دا ستاسو په پاملرنه اغیزه ولري خبرې وکړو.
- قانون STARTTS ته دا اجازه هم ورکوي یا اړتیا لري چې ستاسو شخصي روغتیايي مالومات ښکاره کړي، د بیلګې په توګه:
  - د عامه ګټو څیړنیزو پروژو لپاره څیړونکو ته لکه څنګه چې د بشري څیړنې او اخلاقي کمیټې لخوا تصویب شوي
  - نورو روغتیايي خدمتونو یا د قانون پلې کونکو ادارو ته لکه پولیس که تاسو موږ ته مالومات راکړئ چې د یو جدي جرم سره تړاو لري، په ګډون د تیري کورنې تاوتریخوالي، د ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنه، او داسې نور
  - نورو ادارو ته چیرته چې دا مالومات د ماشوم یا ځوان د خوندیتوب، هوساینې یا رفاه پورې اړه لري
  - د جلب یا د لټون د حکم اطاعت کول که محکمه یا پولیس په محکمه کې د ثبوت په توګه ستاسو مالوماتو ته اړتیا ولري

## مالوماتو ته ستاسو حق

- د NSW روغتیايي مالوماتو او روغتیايي ریکارډونو او مالوماتو لپاره د NSW روغتیا محرمیت لارښود لاندې د محرمیت قانون 2002 (HRIPA)، تاسو کولی شئ خپل روغتیايي مالوماتو ته لاسرسی ومومئ. د روغتیايي مالوماتو خدمت ((Health Information Service (HIS) په STARTTS کې تاسو ته ستاسو د STARTTS روغتیايي ریکارډونه درکوي.
- که تاسو دا باور لرئ هغه مالومات چې موږ ستاسو په اړه لرو غلط دي یا STARTTS تېروتنه کړې ده، مهرباني وکړئ موږ ته خبر راکړئ، او موږ به یې سم کړو یا ستاسو د روغتیايي ریکارډ ته به یو یادداشت اضافه کړو.
- موږ ممکن ستاسو شخصي مالوماتو ته لاسرسی په استثنايي شرایطو کې رد کړو، لکه چیرې چې لاسرسی درلودل به تاسو یا بل کس د رواني یا فزیکي زیان له خطر سره مخ کړي.

# زه څرنګه خپل د STARTTS روغتیايي ریکارډ ته لاسرسی درلودلي شم؟

<table>
<tr><th></th><th>پیرودونکي</th><th>بل شخص</th><th>قانوني وکیل یا د بیمه کمپنۍ</th></tr>
<tr><td>د ریکارډ کاپي</td><td colspan="2">د روغتیايي پاملرنې ریکارډونو ته د لاسرسي لپاره د غوښتنلیک فورمه</td><td rowspan="3">یوه لیکلي غوښتنه په ګډون:<ul><li>د پیرودونکي بشپړ نوم</li><li>د زیږون نیټه</li><li>د اړتیا وړ د ریکارډونو نیټه</li><li>ځانګړي توضیحات د ریکارډونو/ مالوماتو چې اړین دي</li><li>چیرته چې STARTTS د اسنادو لیږلو ته اړتیا لري</li></ul></td></tr>
<tr><td>د ریکارډ بیا کتنه</td><td colspan="2">د روغتیايي پاملرنې ریکارډونو ته د لاسرسي لپاره د غوښتنلیک فورمه<ul><li>HIS به تاسو سره د اپوینتمنت جوړولو لپاره اړیکه ونیسي</li><li>د HIS یو استازی به ستاسو سره کیني او ستاسو د ریکارډ په اړه به ستاسو پوښتنو ته ځواب درکړي. په هرصورت، استازی به د کومې رواني پوښتنې لپاره ځواب درنه کړي.</li></ul></td></tr>
<tr><td>حاضریدل یا د ملاتړ لیک</td><td colspan="2">د ګډون یا ملاتړ لیک لپاره غوښتنه</td></tr>
<tr><td>پېژندنې کارت ته اړتیا ده<br>بېلګه:<br>پاسپورټ، د موټر چلولو لایسنس، Immicard</td><td>خپله پېژندپاڼه</td><td>خپله پېژندپاڼه<br>د پیرودونکي پېژندنه</td><td>پېژند پاڼي ته اړتیا نشته.</td></tr>
</table>

**رضایت ښودل**
**(نیټه يې د غوښتنې په درېو میاشتو کې وي)**

| پیرودونکي | رضایت اړین دي |
|---|---|
| 16 کالوعمر+ | پیرودونکي |
| 16 کالوعمر | والدین یا قانوني سرپرست |
| ښکته | د ارادې اجرا کوونکی |

**فیس**

**د پناه غوښتونکو لپاره هیڅ فیس نشته.**
**50% تخفیف د تېولو تقاعد اخیستونکو، تخفیف یا د روغتیايي پاملرنې کارتونو لپاره.**
**ستاسو د ریکارډ، حاضرۍ او ملاتړ لیکونو د لیدلو لپاره هیڅ فیس نشته.**

STARTTS باید د اسنادو د کاپیو د ورکول د مخه تادیات ترلاسه کړي

| فقره | بیه |
|---|---|
| غوښتنلیک بیه | $33.00 |
| د پاڼې اضافي فیسونه (د 80 مخونو څخه د ډېرو ریکارډونو لپاره) | $0.40 په یوه پاڼه |

**د وخت موده**

- **اعظمي وخت يې 21 کاري ورځې.**
- که ستاسو غوښتنه بیړنۍ وي، تاسو کولی شئ دا په خپله غوښتنه کې په ګوته کړئ. د روغتیايي مالومات خدمتونه به ستاسو غوښتنې ته لومړیتوب ورکړي، مګر مهرباني وکړئ پوه شئ چې STARTTS نشي کولی دا تضمین کړئ.

## مونږ سره اړیکه وکړئ

که تاسو د خپل شخصي مالوماتو د محرمیت په اړه پوښتنې یا شکایت لرئ، نو د لاندې وسیلو له لارې د روغتیايي مالوماتو خدمت سره اړیکه ونیسئ:


**تلیفون:** (02) 9646 6700

**ایمیل:** STTS-HealthInformationService@health.nsw.gov.au


ریفرنس

**Health Records Information Privacy Act 2002**
**NSW Health Privacy Manual for Health Information**
**Privacy and Personal Information Protection Act 1998**

د محرمیت نور قوانین او اړونده مادې
**Health Administration Act 1982**
**Mental Health Act 2007**
**Public Health Act 1991**
**Commonwealth Privacy Act 1988**
**Government Information (Public Access) Act 2009**
**State Records Act 1988**
**Children and Young Persons (Care and Protection) Act 1998**